# شتمنی
SHTAMANAI

یکشنبه | ۱۱ ربیع الثانی ۱٤٤٤/ ۱۵ عقرب ۱٤۰۱ | ٦ نوامبر ۲۰۲۲ | سال اول | شماره ۳۱ | ٤ صفحه




**هموطنان عزیز !**

تادیه مالیه گامی مهم به سوی ترقی و خودکفایی کشور مي باشد؛
پس بیائید که پرداخت مالیه را به یک فرهنگ ملی مبدل سازیم.

# د عوایدو د بربښنايي کېدو درې اړخیزه هوکړه لاسلیک سوه




د ماليې وزارت، افغانستان بانک او د احصايې او معلوماتو ملي ادارې تر منځ د عوایدو بربښنايي کېدو هوکړه لیک د حکومت د رسنیو په مرکز کي لاسلیک سو.

په همدې تړاو جوړه سوې غونډه کي د ماليې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري، د افغانستان بانک رئیس عبدالقهار (حاجي ادریس) د احصايې او معلوماتو ملي ادارې رئیس ډاکټر فقیر محمد زیار، د ماليې وزارت د عوایدو لوي رئیس معراج محمد معراج، د اړوندو ادارو یو شمېر مسؤلینو او رسنیو ګډون کړی وو.

په پیل کي د ماليې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري وویل: ملي عواید د هیواد د پرمختګ او مالي خپلواکۍ لپاره په بدن کي د وینې حیثیت لري، د عوایدو راټولو معلوماتي او مدیریتي سیستم پیوستون د غوره حکومتولۍ پر لوري مهم ګام دئ. دغه چاره به د بربښنايي عوایدو په راټولو کي د شفافیت لامل وګرځي او د عوایدو په راټولولو کي به اړیني اسانتیاوي رامنځته کړي.

د احصايې او معلوماتو ملي ادارې رئیس ډاکټر فقیر محمد زیار هم د عوایدو پر بانکي کېدو ټینګار وکړ او وې ویل: ټول عواید باید په شفاف ډول د سیستم له لاري راټول سي، تر څو په دې برخه کي په ملي کچه لازمه روڼتیا رامنځته سي.

د افغانستان بانک د تادیاتو سیستم امر اسدالله شفق وویل: افغانستان بانک د یاد هوکړه لیک ټولو اصولو ته ژمن دئ او دغه چاره د ملي عوایدو د لا شفافیت په برخه کي یو ښه ګام بولو او هڅه کوو، ترڅو له نورو دولتي ادارو سره هم ورته هوکړه لیکونه لاسلیک کړو.

د یادوني وړده چي بربښنايي حکومتولي د نظامونو د پرمختګ او اوسني عصر لومړیتوب دئ، ملي عواید چي په بربښنايي ډول را ټولېږي، مثبت اغیز یې پر ملي بودیجه پرېوزي او د فساد کچه صفر ته را کښته کوي.


## د ماليې وزیر د صکوکو او ضرابخانې له مطبعې څخه لیدنه وکړه



د ماليې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري، چي د دغه وزارت یو شمېر رئیسانو او کارکوونکو ئې ملتیا کوله، د صکوکو او ضرابخانې مطبعې له دولتي شرکت څخه لیدنه وکړه. د ماليې وزیر د دغه شرکت د فعالیتونو له ارزوني وروسته د دغه شرکت د اجرائیه کمېټې او کارکوونکو له هڅو مننه او قدرداني وکړ او د دولتي ادارو د ټولو محرمو اسنادو د چاپ په برخه کي یې د لا زیاتو همکاریو ژمنه وکړه. د ماليې وزارت د صکوکو او ضرابخانې مطبعې دولتي شرکت د ټولو دولتي خوندي، ناخوندي، حکاکي او د امنیتي نښو له درجولو سره د ټولو دولتي نمبر پلیټونو د لیک چاري پر غاړه لري او په دې برخه کي له څه باندي یوې پېړۍ راهیسي کار کوي

## برگزاری برنامه آموزشی برای اعضای هیئت مدیره شرکت های دولتی

برنامه آموزشی برای اعضای هیئت مدیره شرکت های دولتی جهت حمایت قاطع از تمامی شرکت های دولتی وزارت مالیه و ارزیابی پیشرفت امور و شفافیت برگزار گردید. در این برنامه آموزشی طرزالعمل تازه ارزیابی همه جانبه شرکت های دولتی تشریح گردید، تا در آینده نزدیک هیئت مدیره هر شرکت در پرتو آن شرکت ها را مورد ارزیابی قرار دهد. نظر به تاثیر مثبت شرکت های دولتی بر وضعیت اقتصادی کشور، تاکید گردید تا وزارت مالیه به حمایت همه جانبه از این منابع عوایدی را ادامه دهد.



### سرمقاله

## راسئ کار په غور او دقت وکړو

د اسلام مقدس دین کارکولو ته خورا ارزښت ورکړی؛ تر دې چي کار کول ئې عبادت ګڼلی. دا په دې معنا چي کله یو کاسِب (کارکوونکی شخص) د حلال رزق د ګټلو لپاره له خپله کوره وزي تر څو خپل ځان او خپل اولاد ته حلاله رزق پیدا کړي؛ نو د دغه ډول انسان هره لحظه له هماغه وخت څخه، چي له کوره وزي تر څو پوري چي له خپلي وظیفې څخه بېر ته خپل کور ته راځي، دا ټول وخت به ورته په عبادت کي حسابیږي او بې شمېره ثوابونه به ورته ورکول کیږي؛ هغومره لوړ ثوابونه به ورته ورکول کیږي لکه څونده چي یو عابد انسان ته د هغه د عبادت او ریاضت په نتیجه کي ورکول کیږي. کارکول په اصل کي د الله تعالی د بې ساري نعمتونو څخه یو ستر نعمت ګڼل کیږي. د همدې کارکولو په نتیجه کي د نړۍ ملتونو او تمدنونو پرمختګ کړی دئ او د بدبختیو، ټولنیز فقر او نورو ته د احتیاج څخه ژغورل سوي دي. په ځانګړې توګه په اوسنۍ پرمختللی او په ټکنالوژۍ سمباله نړۍ کي خو بې کاره خلک هیڅ ارزښت نه لري. نو ځکه خو ویلای سو چي مناسبه وظیفه او دنده د الله تعالی بې ساری نعمت دئ.

نو راسئ، چي د دې نعمت د شکر ایستلو په پار په خپلو کارونو کي له لټۍ او ټنبلۍ څخه تېر سو، خپلي رسمي دندې ته پر وخت ولاړ سو، کار په غور او دقت سره وکړو، پر خپلو همکارانو تکیه ونه کړو، له دې فکره تېر سو (چي په زوره او جبر دا وظیفه رابانـدي تحمیل سوېده). نن چي موږ ښه وظیفه او غوره مصروفیت لرو، د خپلو کارونو په ښه توګه تر سره کول زموږ د ټولو مسؤلیت دئ، د اسلام مقدس دین له موږ څخه غواړي چي خپل مسئولیتونه او دندې په ښه او غوره توګه تر سره کړو، په کار کي کسالت او غفلت ونه کړو او نه هم د غفلت او کسالت له کبله پر نورو کسانو تکیه وکړو.

**په همدې هیله**

**درنښت**

**اداره**

**((ددې لپاره چي عواید په شفاف ډول راټول او د بې نظمیو او ګډوډیو مخنیوی وسي، ټولي عایداتي اداري مکلفي دي چي خپل عواید د بانک له لاري په اصولي توګه راټول کړي))**

**د عوایدو د بربښنايي کېدو د درې اړخیزه هوکړې پر مهال د ماليې وزیر الحاج ملاهدایت الله بدري وینا**

م ۲



**د ګمرکونو لوی رئیس د خوړو او درملو ملي ادارې له رئیس سره وکتل**

م ۳



**رئیس عمومی تفتیش داخلی با رهبری ریاست عمومی گمرکات دیدار کرد**

م ۳



**سپما، د سپما ګټې او سپما څنګه رامنځ ته کېدای شي**

م ۲



**نقش تقوا در عملکرد مدیران و کارکنان اداره**

م ٤

# د عوایدو د برېښنايي کېدو د درې اړخیزه هوکړې پر مهال د ماليې وزیر الحاج ملاهدایت الله بدري وینا

د افغانستان بانک او د احصائيې او معلوماتو ملي اداري قدرمنو رئیس صاحبانو، د رسنیو د مرکز او اړوند ادارو مسولینو، د رسنیو محترمو استازو او د غونډې ټولو قدرمنو ګډونوالو:
اسلام علیکم ورحمت وبرکاته:
موږ ټول افغانان د الله تعالی ډېر شکر اداکوو، چې وروسته له ډېرو کلونو یې د لمړي ځل لپاره افغان مجاهد او مبارز ملت ته دا توانايي ورکړه، چې حکومت یې خپله ملي بودجه د خپلو داخلي عوایدو څخه ترتیب کړه او اوس الحمدلله د پلي کېدو په حالت کې ده.
د ملي بودجې د تمویل لپاره ملي عواید په شفاف ډول راټول، په شفاف ډول مصرف کول او همدارنګه خپل څوریدلي او کړېدلي؛ خو قدرمن ملت ته معیاري خدمات وړاندي کول د افغانستان اسلامي امارت د حکومتدارۍ له اولیتونو څخه دي.
ملي عواید هغه وخت په شفاف ډول راټولیدلای سي، چې د فساد سره مبارزه وسي او ټوله عواید د سیستم له لاري راټول سي، الحمدلله د ماليې وزارت په خپل تدبیر او کاري غوره والي او د ژمن او مسلکي کادرونو په ګمارلو سره اداري فساد له منځه وړی او د ماليې وزارت ډېری سیستمونه یې برېښنايي کړي دي او واقعیي شفافیت یې رامنځته کړی دئ، دې هدف ته د رسېدولو لپاره د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه مقام د (شل یو اویا)۲۰۷۱ ګڼه حکم هم داسي هدایت ورکړی: د پورتني هدایاتو د تطبیق لپاره د ماليې وزارت

> ((ددې لپاره چې عواید په شفاف ډول راټول او د بې نظمیو او ګډوډیو مخنیوی وسي، ټولي عایداتي اداري مکلفي دي چې خپل عواید د بانک له لاري په اصولي ټوګه راټول کړي))

او د افغانستان بانک د هغه وزارتونو او مستقلو ادارو خدمات او عواید چې تر اوسه لا برېښنايي سوي نه دي په بانکي بڼه تغیر وي، چې داده شروع مو د ملي احصائیه او معلوماتو اداري څخه وکړه او د اصلاحاتو دا لړۍ به په نورو اداراتو کې هم د وخت په تېرېدو سره تطبیق سي، ددې اصلاحاتو په تطبیق کې د افغانستان بانک، د ملي احصائیه او معلوماتو اداري د مشرتابه او د ماليې وزارت د همکارانو څخه خاصه مننه کوم.
درنو حاضرینو! ملي عواید، زموږ د ګران افغانستان د پرمختګ او مالي خپلواکۍ دپاره په بدن کې د وینې حیثیت لري.
په برېښنايي او شفاف ډول د ملي عوایدو د راټولېدو په موخه د الکټرونیکي تذکرو سیستم او د عوایدو راټولولو معلوماتي او مدیریتي سیستم پیوستون د غوره حکومتولۍ پر لوري مهم ګام دئ.
دغه چاره به د برېښنايي عوایدو په راټولو کې د شفافیت سبب وګرځي، په ادارو کې به د وخت د ضایع کولو مخه ونیسي او ترڅنګ به یې د عوایدو په راټولو کې لازمي اسانتیا هم رامنځته کړي وي.
د ماليې وزارت به د دې هوکړې ټوله موارید او خپل مسؤلیتونه په ښه امانتدارۍ او ټاکلي وخت سره ترسره کوي.
د عوایدو عمومي ریاست به په خپلو ورسپارل سوو مسؤلیتونو کې چټک ګامونه پورته کوي، د یوزر جوړولو او سیستم د توصل لپاره به ګړندي او تخنیکي ګامونه اخلي.
د ماليې وزارت به د درې واړو ادارو په همکارۍ او ملتیا خپلي چاري ښې مخته وړي او زه پر دې باوري یم، چې موږ به د برېښنايي حکومتولۍ په پیاوړي کولو کې تر دې نور هم وړاندي ځو او د نوي افغانستان لپآره به خولې تویوو.
د سوکاله او ودان افغانستان په هیله

## د مرکزي سیلو د لاسته راوړنو او عوایدو لوړېدلو په تړاو ناسته ترسره سوه




مرکزي سیلو د لاسته راوړنو او په کلنیو عوایدو کې د زیاتوالي په تړاو رسنیزه غونډه د ماليې وزارت د دولتي شرکتونو عمومي رئیس الحاج عبدالحمید اخندزاده، د دولتي شرکتونو لوي ریاست د سوداګریزو چارو رئیس نوید احمد عازم، د مرکزي سیلو رئیس مولوي نصرالله منصور، د ارزاقو دولتي شرکت رئیس مولوي عبدالرازق رفیع او د اړوندو ادارو د یو شمیر مسؤلینو او رسنیو په ګډون سره په مرکزي سیلو کې ترسره سوه.
د مرکزي سیلو رئیس مولوي نصرالله منصور ګډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنګ وویل، چې په تیرو شلوکلونو کې مرکزي سیلو فلج وه، چې د اسلامي امارت په راتګ سره عایداتي سرچینو ته د ځانګړې پاملرني په نتیجه کې دغه سیلو فعاله سوه، چې اوسمهال په درې عمده برخو؛ د ډوډۍ (کیک، روټ، کلچو) اوړو د تولید او غنمو د ذخیره کولو برخو کې فعالیت کوي، چې داسلامي امارت له حاکمیت وروسته یې په ۱۴۰۱ مالي کال کې (٦١) میلیونه افغانۍ عواید ترلاسه کړي، چې د کال تر پایه به د (۲۰) میلیونه افغانیو ګټې په ترلاسه کولو سره د عوایدو کچه (۲۰۰) میلیونه افغانیو ته لوړوي. نوموړي همدا راز وویل، چې د کابل او پولي تخنیک پوهنتونونو په ګډون د کورنیو چارو وزارت له محترم مقام سره یې د ډوډۍ رسولو شپږ میاشتني قراردادونه لاسلیک کړي او له نورو دولتي ادارو څخه هم غوښتنه کوي، تر څو له سیلو سره ورته قراردادونه لاسلیک کړي.
د دولتي شرکتونو عمومي رئیس الحاج عبدالحمید اخندزاده د مرکزي سیلو فعالیتونه وستایل او وې ویل، چې د مرکزي سیلو مسؤلینو خپل مسؤلیتونه په سمه توګه ترسره کړي او په نتیجه کې یې ښې لاسته راوړني لرلي. ښاغلي اخندزاده له ټولو دولتي شرکتونو غوښتنه وکړه، تر څو خپل مسؤلیتونه په احسنه توګه ترسره کړي او په اړوندو برخو کې ولس ته ګټور خدمتونه وړاندي کړي.

## سپما، د سپما ګټې او سپما څنګه رامنځ ته کېدای شي

د حقوقي بورډ غړی ابومحمد ابراهیمي

زموږ په ټولنه کې زیاتره خلک په تیره بیا ځوانان د ژوند لپاره هیڅ پلان نه لري داپه دې معنی سره چې د وی لنډ مهالي منځ مهاله او اوږد مهاله پلانونه نه لري، چې موږ به سباڅه کوو یعنې دغه اوس چې زه چیرته کار کوم که دغه کار زما له لاسه ووځي یا هم دغه کار ونه چلید زه به سبا څه کوم؟ په بله اصطلاح زموږ د ټولنې ډیری وګړي په ځانګړې توګه ځوانان د ژوند لپاره بې پلان اوبې برنامې ژوند کوي، زموږ ځوانانو ته په کار ده چې دوی باید (A) پلان (B) پلان او (C) پلان ولري. ترټولومهمه خبره داده، چې موږ له لګښت کولو څخه مخکې خوځله باید فکر وکړو، لومړیتوبونه وټاکو، د خپل بریالي مالي ژوند لپاره مسؤلانه پلان ولرو او سپما وکړو، خو سپما کول پدې معنی نه ده چې موږ په ژوند کې سختي او تنګ دستي وکړو او په خپل ځان، کورنۍ او ملګرو باندې مصرف ونه کړو، هیڅکله نه، بلکې د بې ځایه او بې ترتیبه لګښتونو څخه مخنیوی وکړو تر څو په راتلونکې کې د نورو له احتیاجه خلاص شو.
زموږ مشران او عالمان تل داخبره کوي چې تل باید لاس نیوی وکړئ او له بې ځایه لګښتونو او بې مورده مصرفونو څخه ډډه وکړئ، هغوی یې دلیل داګڼې چې که چیرې مو سپما وکړه نو هیڅکله به چا ته لاس اوږد نه کړی او محتاج به نه شی، نو ضرور خبره ده چې د خپلو ورځنیو لګښتونو ترڅنګ باید په خپلو مصارفو کې سپما ته ډیره توجه وکړو او خپل لګښتونه په نسبت د خپلو مصارفو باید راکم کړو. خو متاسفانه چې زموږ په ټولنه کې دا ډیر تر سترګو کیږي چې اکثریت وګړي یوازې دانه چې سپما ته پاملرنه نه کوي بلکې دوی د خپل ژوند د پرمخ بیولو لپاره هیڅ پلان او برنامه نه لري او خپل ورځني لګښتونه په داسې یو شکل ترسره کوي چې نه علمي بڼه لري او نه هم د کوم تجربه لرونکي انسان له کړنو سره برابر وي. دغه بې برنامې اوبې پلانه ډله دافکر نه کوي چې زه به سبا څه کوم؟ څنګه به خپل ژوند پرمخ بیایم؟ او د خپل ژوند د پرمخ بیولو لپاره څه کولای شم؟ او بل آخره له ده سره دا فکر نه شته چې څرنګه کولای شم د خپل ژوند اړتیا وې پوره کړم که چیرې له دغه ډول خلکو سره د ژوند لپاره یاد شوی پلان نه وي دی به له ستونزو سره مخ کیږي.
زموږ د ټولنې وګړي باید د خپل ژوندانه لپاره دغه پلان ولري داځکه که چیرې دی ښه دنده هم ولري، مناسب عواید هم ولري، ښه پوره وړتیا او انرژي هم ولري، ضرور ده چې له ځان سره د B پلان ولري داځکه چې د عمر په تیرېدوسره ممکن دغه انرژي، دغه توانايي، دغه شان قابلیت او استعداد یې په همدغه شان پاتې نه شي د نړۍ پرمخ ډیری کسان له دغه شان ستونزو او اندیښنو سره مخ دي او عمر یې چې تیرېږي دغه اندیښنې ورته پیدا کیږي چې په پایله کې په غمونو، تشویشونو، او ډیپریشن باندې اخته کیږي.
د دې ټولو لوی عامل دا دی چې دوی سپما نه ده کړې داچې سپماڅه ګټې لري او هغه ځوانان چې سپما کوي




دهغه ځوانانوسره به یې فرق څه وي چې سپمانه کوي؟
د دې ټولو پوښتنو ځواب لپاره د اقتصادي علومو پوهان او متخصصین په دې نظر د ي چې که چیرته څوک سپمان وکړي هغه به استقلال ته رسیږي، په ژوند کې به د اقتصادي استقلال خاوند وي او ټولې ستونزې به یې رفع او هیچاته به محتاج نه وي.
د سپما دوهمه ګټه داده چې ته په راتلوونکي کې د خپلو اولادونواو د خپل نسل یا کورنۍ د راتلوونکیې او هغوی ته د ښه ژوندانه د پیداکولو زمینه مساعده کولای شی او ژوند یې تضمین کولای شي او په دې ډول سره ته خپل ځان او ژوند آسوده کولای شی، داځکه چې تاد خپل نسل، خپل اولادونه ښه روزنه وکړه طبعي ده چې دوی به راتلوونکې کې ښه کار بار کوي دوی به ښه روزګار لري اوپه ټوله کې به ستا اقتصادي اړتیاوې پوره کوي.
د سپمادریمه ګټه داده چې دغه پیسې د ژوند په پاتې برخه کې سوداګرۍ ته یا هم یوبل کار بار ته ځانګړې کړي چې له سوداګرۍ څخه یې ګټه زیاته وي.
موږ د ټولنې ټول وګړي دا مسؤلیت لرو چې د سپما په اړه ذهنیت جوړونه وکړو، اعتدال ا ومیانه روي رامنځ ته کړو، خلکو کې دغه ذهنیت ته وده ورکړوچې څنګه کولای شو سپما رامنځ ته کړو او څرنګه کولای شو له ځانه یو معتدل انسان جوړ کړو، که چیرې مو داکار وکړهیڅکله زیات لګښت نه کوی او په اصطلاح له خپلې بړستنې سره پښې غځوي او د شریعت لارښوونه هم همدا ده، چې له زیات لګښت، اصراف څخه ځان وساتو او میانه روي وکړی.
له اندازې زیات نوې جامې، کورتۍ، بوټان او جمپر مه اخلئ، ښه به داوي چې خپل زاړه او هغه د تیر کال استعمال شوي شیانو مو راواخلی او استفاده ترې وکړی، ځکه دې کار کې کومه ستونزه نشته باید ګذاره پرې وکړی او په نویو ډیزاینونو، د انټرنیټ او موبایل مصارف مو راکم کړئ، د نوي لیپټاپ، موبایل، ای پډ او ګوشکیو له رانیولو مخنیوی وکړئ، برانډونو او قیمتي جامو پسې مه ګرزی د عادي قیمت او بیې لرونکي توکي واخلی چې قیمتونه یې یوه اندازه کم وي، په رستورانتونو او مجللو هوټلونو کې له ډوډۍ خوړلو ډډه وکړئ.
دا خبره هم ده چې هغه کسان چې په ډیرو لګښتونو باندې عادت شوي وي هغوی په آسانۍ سره سپما نه شي کولای خو که چیرې قوي تصمیم او ټینګه اراده وکړي داکار ممکن دی او په دې ذکر شویو لارو چارو باندې عمل وکړي باور لرم چې په آسانۍ سره به ځان له سپماسره عادت کړي.
اوس چې زموږ هیواد وال له خورا سختواقتصادي شرایطو رنځ وړي له یوې خوا د بې کارۍ او له بلې خوا د خوراکي توکیو قیمتونو د لوړ والي او نورو بیلا بیلو ستونزو سره مخ دي پکار ده چې له کمو سرچینو زیاته ګټه پورته شي او همدا د اوسنی وخت کې له دې درد او رنج څخه خلک وژغورو.
همیشه له ځان سره محاسبه ولرئ، له خپل ځان سره تل د یوې یوې افغانۍ محاسبه وکړئ، د لګښتونو په کولو سره ځان ته تر ډېرې بریده قناعت ورکړی چې آیا دغه لګښت مې پرځای دی که نه؟ زما لومړیتوب کوم شی دی او دهر توکي د اخیستلو پرمهال باید فکر وکړی او بیا لګښت وکړی.

شتمنی
SHTAMANAI


## ورکشاپ آموزشی و تطبیقی نمرات کارت متوازن برای شرکت های دولتی برگزار شد

ورکشاپ آموزشی و تطبیقی نمرات کارت متوازن تحت ریاست نوید احمد عازم رئیس تجارتی ریاست عمومی شرکت های دولتی درخیبر هال وزارت مالیه دایر گردید در این ورکشاپ هیئت رهبری ریاست عمومی شرکت های دولتی، شماری ازرؤسای شرکت های دولتی، رییس منابع بشری و رییس ارتباط و آگاهی عامه اشتراک داشتند، در نخست نوید احمد عازم رییس تجارتی ریاست عمومی شرکت های دولتی در سخانان افتاحیه این ورکشاپ به تمام شرکت های دولتی یادآور شد که باید به فعالیت های اساسی شان توجه داشته و سطح عملکرد سازمان مربوطه شانرا ارتقا دهند. وی علاوه کرد که شرکت های دولتی به عنوان یکی از چشمه های عایداتی باید کارت امتیازی متوازن را برای بهبود فعالیت ها و عملکرد شرکت تطبیق نمایند تا شرکت ها بتوانند به صورت تدریجی به خودکفایی مالی برسند و بخشی از عواید شانرا به بودجه دولت واریز نمایند.



همچنان در این ورکشاپ طی یک پرزنتیشن به اشتراک کنندگان در رابطه به تعریف کارت امتیازی متوازن، نحوۀ اجرا و تطبیق آن در شرکت های دولتی، معیارهای کلی برای تدوین کارت امتیازی متوازن، مراحل اجرای کارت امتیازی متوازن برای شرکت ها، اجزای اصلی کارت متوازن که شامل معیاری های مالی، معیاری های مشتری، معیاری های عملیاتی و معیارهای رشد و یادگیری است، به مسئولین شرکت های دولتی معلومات ارائه گردیده و موارد یاد شده مورد بحث و تبادل نظر قرار گرفت. قابل یادآوری است که کارت امتیازی متوازن (Balanced Score Card) یک ابزار مدیریتی برای اجرای استراتیژی است که به مدیران اجازه می‌دهد تا بتوانند به راحتی بر روند اجرای فعالیت‌ها توسط کارمندان نظارت داشته باشند و نتایج این فعالیت‌ها را بررسی و کنترل نمایند.

## د گمرکونو لوی رئیس د خوړو او درملو ملي اداري له رئیس سره وکتل



د گمرکونو لوی رئیس ښاغلي مفتي عبدالمتین سعید د گمرکونو او عوایدو معینیت د غونډو په تالار کې د خوړو او درملو ملي اداري له رئیس ښاغلي ډاکټر عبدالباري عمر سره وکتل. په دې کتنه کې، چې د گمرکونو تخنیکي او حمایوي مرستیال او یو شمېر رئیسانو هم ګډون کړی وو، دواړو لورو سوداګرو ته د اسانتیا په موخه په گمرکونو کې د اړوندو چارو پر لا چټکتیا، د دواړو ادارو تر منځ پر ښه همغږۍ، په ولایتي گمرکونو کې د خوړو او درملو ملي اداري د څانګو کاري وخت پر زیات والي او یو شمېر نورو اړوندو مسایلو هر اړخیز بحث وکړ. د ناستي په پای کې پرېکړه وسوه چې په گمرکونو کې د وارداتي توکو د چټکو طی مراحلو په موخه دي په ولایتي گمرکونو کې د خوړو او درملو ملي اداري د څانګو کاري وخت زیات سي.

## رئیس عمومی تفتیش داخلی با رهبری ریاست عمومی گمرکات دیدار کرد

انجنیر عبداللطیف خالد، رئیس عمومی تفتیش داخلی وزارت مالیه و تیم تخنیکی همراهش با معاون، روسای و آمرین ریاست عمومی گمرکات به منظور تعقیب تطبیق توصیه های تفتیش در تالار کنفرانس معینیت عواید و گمرکات دیدار نمودند. معاون ریاست عمومی گمرکات در جریان این دیدار ضمن خیرمقدم به هیئت حاضر در خصوص تطبیق توصیه های اصلاحی ارائه شده توسط مفتیشین و همچنین روی اهمیت و اثربخشی اینگونه جلسات صحبت کرد. رئیس عمومی تفتیش داخلی معلومات



توصیه های تفتیش را به حاضرین جلسه ارائه نمود و از مسئولین ریاست عمومی گمرکات خواست تا گزارشی فعالیت ها و اصلاحات امور خویش را شریک سازد. آقای خالد در جریان جلسه پیشنهاد نمود تا یک کمیته کاری مشترک برای دریافت راه حل ها مسائل تخنیکی و پیچیده مربوط به سایر ادارات ایجاد گردد. در پایان جلسه مسئولین ریاست عمومی گمرکات اطمینان داد تا توصیه های تفتیش به زودی عملی گردیده و نتایج آنان را با ریاست عمومی تفتیش داخلی شریک سازند.

## د روزنیزو پروګرامونو ممتازو ګډونوالو ته ستاینلیکونه ورکړل سول

د مالیې وزارت د کورنۍ پلټنې عمومي ریاست له لوري په لاره اچول سوو رونیزو پرګرامونو د ګټورتوب غونډه د کورنۍ پلټنې عمومي رئیس عبدالطیف خالد، د بشري سرچینو رئیس مولوي احمد شاه شاکر او اړوندو ادارو د یو شمیر مسؤلینو، تریناانو او د روزنیزونو پروګرامونو د ممتازو ګډونوالو په ګډون د مالیې وزارت په خیبر صالون کې ترسره سوه. د مالیې وزارت د کورنۍ پلټنې عمومي رئیس عبدالطیف خالد د ګمرکونو، مستوفیتونو او د کورنۍ پلټنې عمومي ریاست د مسلکي تریناانو څخه مننه وکړه، چې نوي ګمارل سوي کارکونکو ته یې کټوره روزنه ورکړه، نوموړي زیاته کړه چې ننني ناسته روزنیزو پروګرامونو ته د اهمیت ورکولو او په روزنیزو پروګرامونو کې د لوړو نمرو اخیستونکو کارکونکو د معنوي هڅوني په موخه جوړه سوې ده. د بشري سرچینو رئیس مولوي احمد شاه شاکر د لوړو نمرو اخیستونکو ګډونوالو ته د مبارکي ویلو تر څنګ د کورنۍ پلټنې عمومي رئیس څخه د یاد ریاست د کارکونکو د ظرفیت لوړوني له امله مننه وکړه او زیاته یې کړه، چې پلټونکي په یوه اداره کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د کارکونکو حیثیت لري او د نظام د پیاوړتیا په برخه کې مهم رول اداء کوي. د غونډې په پای کې یو شمیر تریناانو او د روزنیزو پروګرامونو ممتازو ګډونوالو ته ستاینلیکونه ورکول سول.

# اعلانات داوطلبی

### به اعلان سپردن دکاکین کوته سنگی

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه یکتعداد د کاکین دولتی ذیل را در مرکز را طور جمعی ه بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد.

۱. بتعداد ۲۶ باب دکاکین واقع سمت شمال شرق سوپر مارکیت بزرگ کوته سنگی ناحیه سوم ولایت کابل
۲. بتعداد ۱۹ باب دکاکین کوته سنگی واقع سمت غرب سوپر مارکیت بزرگ کوته سنگی جوار سرک عمومی ناحیه سوم ولایت کابل

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی جایداد فوق را داشته باشند، میتوانند سر از تاریخ ۳ عقرب الی مدت (۲۱) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاك دولتی واقع تعمیر ۱۴ منزله سینما پامیر، منزل هفتم تسلیم نموده و بعد از ملاحظه اسناد شرطنامه را در بدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

### به اعلان سپردن ٤ جایداد دولتی واقع ساحات مختلف شهر کابل

ریاست عمومی املاك دولتی وزارت مالیه جایداد های دولتی ذیل را در مرکز طور جداگانه بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد.

۱.موازی ۲۲٤۰ متر مربع زمین واقع مقابل شرکت خیبب گلزار نساجی بگرامی ناحیه ١٦ ولایت کابل
۲. یک باب کانتین واقع داخل محوطه شفاخانه تدریسی میوند ناحیه اول شهر کابل
۳. منزل دوم سوپر مارکیت کوته سنگی واقع ناحیه سوم ولایت کابل
٤. یک باب تعمیر سه منزله واقع چهار راهی دهمزنگ ناحیه سوم ولایت کابل

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی جایداد فوق را داشته باشند، میتوانندسر از تاریخ ۵ عقرب نشر اعلان الی مدت (١٤) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاك دولتی واقع تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر، منزل هفتم تسلیم نموده و بعد از ملاحظه اسناد شرطنامه را در بدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

### به اعلان سپردن ترمیم بام و رنگمالی مسجد شریف وزارت مالیه

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژه (ترمیم بام و رنگمالی مسجد شریف وزارت مالیه) دارای نمبر تشخیصیه MOF/۱٤۰۱/W-۰۰۱ که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراك نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۲۵/عقرب/۱٤۰۱ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ٦/ قوس/۱٤۰۱ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفر : به مبلغ ۲۵,۰۰۰ (بیست پنج هزار) افغانی میباشد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان - ریاست تدارکات،مشاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦

آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمیشود.

**د امتیاز خاوند:** د مالیې وزارت
**مسؤل مدیر:** احمد ولي حقمل
**مرستیال:** محمد نبي سلطاني
**کتنپلاوي:** ندا محمد صدیقي، عبدالرحمن سجاد، ابراهیم گران او اجمل زاهد
**د خبر مدیر:** داود نظري
**خبریال:** سید مصطفی سروش

**د معلوماتو راټولوونکی:** محمد افضل الکوزی
**عکاس:** فضل احمد یوسفزی
**ډیزاینر:** محمد نسیم ظهوري
**ویبپاڼه:** mof.gov.a
**ټویټر:** @afghanistanmof
**یوټیوب:** afghanistan mof
**شمېره:** ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)

SHTAMANAI




# نقش تقوا در عملکرد مدیران و کارکنان اداره


سید سلطانعلی فخری
آمر استخدام


تقوا و تخصص در مدیریت، با هم اشتراکاتی دارند و هردو تعیین کننده نوع مدیریت هستند. یک انسان بی‌تقوا تمام تخصص مدیریت‌اش را در راه هوی و هوس‌های خودش به کار خواهد برد. اما انسان باتقوا دانسته خیانت نمی‌کند، بلکه خیانت او ندانسته وغیرعمد است. تخصص و تقوا هر کدام نوعی مصونیت ایجاد می‌کنند.

برای رسیدن به اهداف اداره و بهبود عملکرد مدیران و کارکنان لازم است تا به نقش ارزنده تقوا در اداره پی برده و برای رسیدن به آن وجود «کنترول» در سازمان که تامین کننده سلامت فعالیت های مدیران و کارکنان بوده و باعث افزایش موثریت و مثمریت و تحقق اهداف در اداره میگردد و با اینکه کنترل بیرونی افراد کار حتمی و لازمی مدیریت است، بدون کنترل درونی که متأثر از کنترول معنوی و تقوای افراد است ضمانت اجرایی ندارد. «خودکنترولی» شیوه ای است که در آن، فرد با توجه به باورها و ارزش های خود، اقدام به رفتار در جهت اهداف سازمانی می کند. «تقوا» نیز ملکه ای نفسانی است که بر اثر آن، انسان از خود در برابر خداوند سبحان به شدت مراقبت می کند تا دچار لغزش رفتاری نشود.

تقوای عبارت است از محافظت و نگهداری نفس از آنچه جای ترس و هراس و نگرانی است تقوی یعنی حفظ نفس از ورود به هر چه که گناه شمرده می شود و گاهی هم به خوف و ترس اطلاق می شود. بنابر این تقوی پرهیزگاری و دوری از مخالفت حق و ترس از نافرمانی خدا و بهترین زاد و توشه آخرت است و به معنی خداترسی و پرهیزگاری می باشد به لحاظ اخلاقی تقوی یک صفت نهادینه شده نفسانی و به تعبیر علمای اخلاق یک ملکه راسخه درونی و به تعبیر امروزی یک مهارت است. ملکه و مهارت حالت درونی و روانی است که باعث می شود عمل خارجی به راحتی، روان و بدون زحمت از انسان صادر گردد. کاربرد این مهارت در صراط مستقیم و اطاعت و بندگی حق تعالی آشکار می شود و کارکرد مثبت آن در مسیر قرب الهی نمود پیدا خواهد کرد.

به تعبیر برخی از عالمان اخلاقی این صفت باعث می شود که انسان تحاش کند، یعنی خود را از منطقه گناه به حاشیه ببرد و حفظ نماید.

نوعی ترس و خدا شناسی نیز در معنای تقوی لحاظ شده است و آن ترس از خروج از مسیر بندگی و اطاعت حق است. انسان متقی پیوسته از این که از مسیر خدا خارج شود هراس دارد، زیرا او که عاشق کمال و قرب الهی است خود را خسارت زده و زیاندیده خواهد یافت. تقوی



مهارت و ملکه درونی است که به انسان کمک می کند تا همواره در جاده مستقیم اطاعت و قرب الهی ثابت قدم بماند, به وظایف دینی خود عمل کند و خویش را از خطر انحراف و ترس از گمراهی برهاند.

تقویت باور دینی (ایمان): بر طالب تقوی و قرب الهی فرض است خصوصاً مدیران و کارکنان که باور دینی و ایمان خویش را به خدای متعال و حقانیت بعثت انبیاء و دین الهی و کتاب آسمانی از طریق مطالعه و تفکر در حوزه های معرفتی و بینش دینی تقویت نماید. رعایت تقوا عملی است که برخاسته از ایمان انسان است و آدمی تا ایمان قوی و شناخت شفافی نسبت به حقایق هستی و اعتقادات دینی نداشته باشد ضامن اجرایی نخواهد داشت. حوزه های معرفت دینی عبارتند از خداشناسی، خودشناسی، معادشناسی، فلسفه دین و جهان شناسی.

دین شناسی: از دیگر لوازم این راه آشنایی با حلال و حرام الهی است. بر مدیران و کارکنان لازم است که با احکام اخلاقی و عملی دین از طریق مطالعه و تحصیل کتب اخلاقی و رساله های دینی آشنا باشد و راه عملی اطاعت خدای متعال را بداند و از بایدها و نبایدهای این مسیر اطلاع کافی داشته باشد. شناختن گناهان و پی آمدهای سوء دنیوی و اخروی آن، نقش و تأثیر بسیار سازنده ای در حصول تقوی و تحکیم آن در انسان مؤمن دارد.

تمرین و ممارست: حصول هر مهارتی نیاز به تمرین و مداومت و ایستادگی دارد. برای مدیران و کارکنان نیز لازم است که در این مسیر از هر طریقی که ممکن است به تدریج عادت های بد خود را ترک و آنها را تبدیل به عادت های مثبت نماید. تمرین عملی و عادت نمودن به ترک گناهان و انجام واجبات الهی به تدریج زمینه حصول ملکه تقوی را در نفس آدمی فراهم خواهد آورد.

تلاوت و استفاده از تفاسیر قرآن کریم: از مداومت در تلاوت قرآن کریم همراه با تدبر در آیات الهی و فهم هدایت های قرآنی نباید غفلت نمود. قرائت و تلاوت پیوسته این کتاب مقدس همراه با فهم معانی آن به تدریج تأثیر بسیار سازنده ای در تقویت و تحکیم ایمان و عمل خواهد داشت. .. شرکت در مجالس و محافل مذهبی، همراهی مؤمنان، همنشینی با عالمان ربانی، مطالعه سیره عملی رهبران مومن و متقی، هدایت و اسوه های تقوا و همچنین مطالعه زندگی و سیره عملی عالمان وارسته, اهل تقوی و سلوک، همچنین سرگذشت گناهکاران و سرانجام منحرفان از راه خدا و تقوی همگی راه هایی هستند که به تقویت بعد معنوی یک مدیر خواهد انجامید.

حقیقت تقوی این است که مدیران بدانند چون خدا همیشه مراقب ما است و ما پیوسته در محضر او هستیم مراقب خودما باشیم و چون هیچگاه خداوند از مراقبت ما غافل نیست ما از مراقبت خود غافل نشویم و در آشکارا و نهان و خلوت و جلوت و در برابر دید و مشاهدهی مردم و دور و پنهان از همه مواظب پندار، افکار، گفتار و رفتار خود باشیم و بر خلاف دستورات و خواستهای خداوند خبیر و بصیر نپنداریم، نیندیشیم، نبینیم، نشنویم، اراده نکنیم، نبوئیم، نگوئیم، عشق نورزیم، کینه توزی نکنیم، گشاده روئی و ترشروئی ننمائیم، دست نزنیم، گام ننهیم، نخوریم، ننوشیم، تصمیم نگیریم، مخالفت ننمائیم، موافقت نکنیم، دفاع، حمایت و جانبداری ننموده، ممانعت، مزاحمت و مبارزه نکنیم، بدون رضای خدا نبخشیم و از بخشش دریغ نکنیم، نرمش نکرده و خشونت را به کار نگیریم، خاشع نشویم و کبر نورزیم. بکار بستن این امور برای امتثال امر پروردگار و جلب رضای او معنای تمامیت تقواست.

## Trilateral agreement signed to electronicize the revenue system




A trilateral agreement to electronicize the revenue system was signed between the Ministry of Finance, Da Afghanistan Bank and National Statistic & Information Authority at Government Media and Information Center (GMIC).

The conference held on this occasion was attended by Minister of Finance, Alhaj Mullah Hedayatullah Badri, the Governor of Da Afghanistan Bank Abdul Qahar (Haji Edris) and Head of National Statistic and Information Authority (NSIA), Faqir Mohammad Zayar, General Director of Revenue Meraj Mohammad Meraj and other officials the related department and local media.

In the opening remarks, Minister of Finance, alhaj Mullah Hedayatullah Badri said: "The national revenue is like blood in the body for the progress and financial independence of the country, linking the management and information of the revenue collection system is an important step toward better governance. The electronic revenue collecting process will become transparent as a result of this move, and the appropriate facilities will be established in the concerned departments.

Later, the head of the National Statistics and Information Authority, Dr. Faqir Mohammad Zayar, underlined the need for electronicize of the revenue system stated that in order to provide the essential transparency in this sector all the revenue should be collected transparently through the system.

Meanwhile, Asadullah Mushfiq, the head of the payment system of Da Afghanistan Bank said that the bank is committed to all principles of this agreement and consider this action to be an effective step for bringing transparency in national revenue collection and trying to come to an agreement with other departments as well.

It is worth mentioning that, e-governance is the top priority of the current time; collection of the national revenue in an e-form will have a positive impact in the national budget and will decrease the corruptionn.

## Minister of Finance Visits Sukuk Printing Press and Mint



The Minister of Finance, Alhaj Mullah Hedayatullah Badri, accompanied by a number of directors and staff of the ministry paid a visit to Sukuk Printing Press and Mint.

The Ministry of Finance's Sukuk Printing Press and Mint has been in charge of printing all valuable and non-valuable documents, engraving seal stamps, and minting official vehicle registration plates with the addition of security signs over a century.

Following his observation of the company's operations, the minister of finance expressed his gratitude and appreciation for the efforts of the executive committee and staff of the mentioned company and pledged greater cooperation in various professional and technical fields with regard to the printing of all confidential


د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هېواد له لیکوالو هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک magazine@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.